ليکوال: شريف بهاند

# نړيوال امنيت او نړيوال مسؤوليت

دو همه برخه

د امريکا د متحدو ايالتونو د دفاع د وزير رابرت ګيتس د وينا لنډيز:

د روسيې د ولسمشر، پوتين له خوا د متحدو ايالتونو پر بهرني سياست له سختو نيوکو يوه ورځ وروسته د امريکا دفاع وزير، رابرت ګيتس خپله وينا د کنفرانس ګډون کونکو ته واوروله.
نومووړي له مقابلې څخه د مخنيوي په موخه، خپله وينا له ټوکو څخه په ډکه ژبه پيل کړه



د متحدو ايالتونو د دفاع وزير رابرت ګيتس

اخځای: Http://www.securityconference.de/konferenz/2007/abschlussartikel_2007.php?

او وويل، چې زه او د تيرې ورځې دوهم وينا کونکی (د تيرې ورځې دوهم وينا کونکی پوتين و) يو ډول مخينه (سابقه) لرو. فکر کوم پخواني ځارګر او د سړې جګړې جنګيالي عادت لري، په روښانو خو سختو او ترخو کلماتو خبرې وکړي. زه هم تاسو وايم، چې د نړی له پاره " هماغه يوه سړه جګړه بس ده". او بيا خپلې وينا ته دوام ورکوی: "اوسنې نړی د سړې جګړې له پړاو څخه پيچلې او توپير [هم] لري. اوس د هغې په وړاندې نورې ستونزې او اړتياوې پرتې دي، چې هغه بايد د نړی له نورو هيوادونو او همدارنګه له روسيې سره په ګډه حل شي". له همدې امله اعلام کوم، چې ما د روسيې د ولسمشر، پوتين او د دفاع د وزير، سرګنی ايوانف بلنه مسکو ته د سفر په خاطر و منله، چې له هغوي سره خبرې اترې تر سره کړم. ځکه " روسيه زموږ شريکه ده. خو موږ له هغو تصميمونونه، چې کيدای شي ثبات ته ګواښ رامنځته کړي، حيران يو. د بيلګې په توګه د وسلو د صادرولو په برخه کې تصميم او د انرژی له زيرمو څخه د يوې سياسي وسيلې په توګه ګټه اخيستل. د روسيې فدراسيون بايد خپلو ګاونډيو پولو ته خيرمه د ولسواکۍ له پراختيا څخه و نه ويريږي". دا په حقيقت کې د پوتين هغو سختو نيوکو ته د نورو ترڅنګ، د پولند او چک په هيوادونو کې د توغنديو د دفاعی سيستم د ځای په ځای کولو او د روسيې تر پولو د ناتو د پوځي تړون پراختيا ته، ځواب و.

سربيره پر دې رابرت ګيتس د متحدو ايالتونو د پخوانی وزير، دونالد رامسفلد خبرو ته نغوته وکړه او وويل، چې " په تيرو کلونو کې ځينو هڅه وکړه، اروپايي او د ناتو غړي هيوادونه په دوو بيلا بيلو ډلو لکه زړه او نوې اروپا، آزاده نړی او د اوسپنيزو پردو تر شأ ولاړ هيوادونه، شمال او سويل او همدارنګه ختيځ او لويديځ وويشي". خو زه تاسو ته په ښکاره توګه وايم، چې " دا ټولې د تيرې زماني ځانګړتياوې دي". اوس موږ له نوو ګواښونو سره مخامخ يو. ټولو ته مالومه ده، چې " د شمالي امريکا او اروپا تر ټولو اغيزمنه وسله، په تير او اوس وخت کې زموږ ګډ باور پر اقتصادي، سياسي او مذهبي آزادی، د بشر حقوق، ولسواکی، ټاکل شوی دولت او د قانون واکمنې، ده" ... اوسمهال زموږ دغه ګډ ارزښتونه تر ګواښ لاندې دي او موږ بايد له هغو څخه دفاع وکړو". ګيتس زياته کړه: " له زور زياتې څخه ډکه بنسټپالې هغه ننګونه (چلنج) ده، چې تر اوسه يې په دې بنې سره شتوالی نه درلود. په اروپا کې

په میشت کډوالو لړکیو کې بنسټپالې شبکې ریشې لري. دغه بنسټپالي د بیان او اندیشې آزادی، ولسواکی او د ښځو حقوق ردوي".

گیټس د افغانستان وضعې ته په نغوتې سره، د ناتو د پوځي عملیاتو پر دوام ټینگار وکړ او زیاته یې کړه: " موږ په دغه هیواد کې د برې له پاره یو سیاسي عزم ته اړتیا لرو". نو ځکه یې د ناتو له غړو هیوادونو څخه وغوښتل، چې له دغه هیواد سره زیاته مالي او پوځي مرسته وکړي. نوموړی په دې اړه وویل: " موږ هغه وعدې، چې د پیسو د ورکړې او پوځي ملاتړ په برخه کې له افغانستان سره کړې دي، باید تر سره کړو. د هندوکش په سیمه کې ماته ننگ دئ". نوموړی زیاته کړه: " د ناتو د تړون غړي هیوادونه د نړۍ له ترټولو بډاي هیوادونه دي او له دوه میلیونو څخه زیات سرتیري لري، باید وکړي شي په پوره پیمانه پوځي ځواک او مالي مرسته د افغانستان په واک کې ورکړي". ځکه افغانستان "زموږ د وړتیا (قابلیت) له پاره د هغو ننگونو (چلنجونو) په وړاندې، چې زموږ ارزښتونو ته ستر گواښ بلل کیږي، یوه ازمون دئ". د متحدو ایالتونو د دفاع وزیر زیاته کړه: "یوازې د امریکا او اروپا تر منځه یووالی کولی شي، د ترهگرۍ گواښ له منځه یوسي. د امریکا او اروپا تر منځه یووالی د ولسواکۍ او د قانون د پلي کولو له پاره یو تضمین گڼل کیږي. ترهگري یو نړیوال گواښ دئ، د هغې په وړاندې باید په نړیواله کچه مبارزه وشي". له همدې امله نړۍ " یوه ژوندی او ځواکمن ناتو ته اړتیا لري، ... چې وکړی شي امنیت له خپلو پولو بهر هم صادر کړي" .

د متحدو ایالتونو د دفاع وزیر، رابرت گیټس په خپله وینا کې د عراق په اړه خبرداری ورکړ او اعلام وکړ، چې په عراق کې د متحدو ایالتونو د ماتې له پایلو څخه به د ناتو هیڅ غړی هیواد خوندي پاتې نه شي. نوموړي وویل: " که متحده ایالتونه او ټلواله یې په عراق کې ماته وخوري او په دغه هیواد کې گډوډې رامنځته شي، ښایي د هغه پایلې د ناتو هر غړی هیواد احساس کړي". گیټس په خپله وینا کې زیاتوي:" په عراق کې د متحدو ایالتونو ماته د هر هغه هیواد له پاره، چې استازی یې دلته ناست دئ، کیدی شي ناوړه اغیز له ځانه سره ولري".

گیټس د چین د ولسی جمهوریت په اړه وویل، چې د متحدو ایالتونو دولت له دغه هیواد سره د رغونکو اړیکو غوښتونکی دئ، خو موږ "د چین د کړنلارې په اړه شک او تردید لرو".

نوموړي د ایران د اسلامی جمهوریت په برخه کې وویل، چې "دغه هیواد نه یوازې په سیمه کې د برترۍ غوښتنې په لټه کې، بلکې د اتمي وسلې د ترلاسه کولو له پاره هم په هاند و هڅو بوخت دئ".

د المان د بهرنیو چارو د وزیر، فرانک والتر شتاین مایر د وینا ځینې برخې:

د المان د بهرنیو چارو د وزیر، شتاین مایر د وینا بنسټیز ټکی دا و، چې متحده ایالتونه او اروپا څنگه کولي شي، د نړیوال کیدو د ننگونې په وړاندې چلند وکړي. نوموړی یادونه وکړه، چې "په دې برخه کې تر ټولو دمخه د اقلیم بدلون او د اومه توکو گمښت د نړیوال امنیت




د المان د بهرنیو چارو وزیر فرانك والتر شتاین مایر

اخځای: Http://www.securityconference.de/konferenz/2007/abschlussartikel_2007.php?

له پاره په اوږدمودیزه توگه بنسټیز رول لوبوي". نو ښه به دا وي، چې د "نړیوال کیدو پایلې د همکارۍ پر بنسټ حل شي، نه دمخامخ کیدو او شخړو له لارې". په دې برخه کې لویدیځ باید مخکښ رول ولوبوي او د "نورو کلتورونو په ژورې او هر اړخیزې خیړنې او له هغوي سره په مساوی دریځ سره خبرو اترو ته د چمتوالی له لارې په نړۍ کې د سیاسي باور د رامنځته کولو له پاره هاند و هڅه وکړی". نوموړی وویل: "موږ باید زده کړو، چې د کلتورونو له جلا

کیدو پرته، د نړیوال کیدو پایلو ته سازمان ورکړو". سربیره پر دې هغه زیاته کړه: " موږ نه شو کولي د ګواښونو په وړاندې یوازې له پوځي لارې مخامختیا او مقابله وکړو. موږ باید هوشیارانه سیاست غوره کړو، چې پوځي کړه وړه و نه شي کړي، زموږ پر سیاسي عکس العملونو برى ترلاسه کړي".

د المان د بهرنیو چارو وزیر د ناتو د پوځي تړون په اړه وویل، چې له سړې جګړې څخه په وروسته پړاو کې د شمالی اتلانتیک د پوځي تړون (ناتو) دندو بدلون موندلي او موږ له ځو کلونو راپدېخوا د ناتو د هغو په اړه، د دغه تړون امنیتي ستراتیژۍ ته په پاملرنې سره خبرې اترې تر سره کوو او دا ستراتیژۍ کیداى شي، په راتلونکی او یا هم په ۲۰۰۹ کال کې تصویب شي.

د افغانستان د کړکیچ په اړه شتاین مایر وویل: " په دغه هیواد کې د امنیت له رامنځته کولو پرته پراختیا او پراختیا بې له امنیت څخه شونې نه بریښي. نو ځکه د پوځي شتوالی تر څنګ د افغانستان بیا رغونه اړین کام بلل کیږي".

د المان د بهرنیو چارو وزیر د ایران د اتمی کړکیچ په اړه ګواښ وکړ او زیاته یې کړه، چې" لویدیځ له یوې دوه لارې سره مخامخ دئ. په راتلونکو کلونو کې به یا موږ په دې بریالي شو، ایران او نور هیوادونه په دې قانع کړو، چې له خپلو اتمي کړنلارو څخه لاس واخلي او یا دا چې موږ به د اتمي وسلو د سیالۍ یو نوى پړاو، چې پایلې د نړۍ د امنیت له پاره نه اټکل کیدونکي دي، تجربه کړو".

د ایران د استازی علی لاریجانی د وینا لنډیز:

د ایران د اسلامی جمهوریت استازی، دوکتور علی لاریجانی د خپلې وینا په پیل کې د نړیوال نظم او امنیت په اړه خبرې وکړې او وویل:" اگر پارادايم هاي مشترك بين قدرتهاي بزرگ و قدرتهاي منطقه‌اي ايجاد گردد، به همان ميزان مي‌توان به پايداري نظم و صلح در جهان اميدوار بود". نوموړی روښانه کړه، هیله مند یم، چې: "اين گردهمايي آغازي براي راهيابي به مسيري معقول باشد و بتواند مختصات نويني، جهت امنيت پايدار فراروي جهان قرار دهد". ځکه د لاریجانی په اند" هدف اوليه هر استراتژي يا اتحاد يا نهاد امنيتي يك جانبه، دو جانبه يا چند جانبه استقرار نظم است" او د دغه نظم دنده " تامين منافع مادي و معنوي است كه شامل عدالت، ازادي، رفاه و احترام به هويت فردي و اجتماعي مي‌شود" . ...



د ایران د اسلامی جمهوریت د ملی امنیت د شورا منشی
دوکتور علی لاریجانی

اخځای: Http://www.securityconference.de/konferenz/2007/abschlussartikel_2007.php?

به عبارت ديگر نظم امنيتي منطقه‌اي و بين‌المللي فقط مي‌تواند بر اساس تفاهم و سازش ماندگاري خود را تضمين كند". د ایران د پلوی مشر د کنفرانس ګډون کونکو ته په دې اړه وویل: چې، "سياست اعضاي امنيت بين‌الملل نمي‌تواند نظم و صلح پايدار ايجاد كند، امنيت مقوله‌اي يك طرفه نيست، درك صحيح متقابل و توجه به مولفه هاي اصلي آن ضروري است. نبايستي به امنيت به عنوان يك تجارت نگاه كرد". نوموړی زیاته کړه: "جمهوري اسلامي ايران از ابتدا مخالف اشغال عراق بود؛ هر چند بيشترين صدمه را از صدام ديده بود؛ اما اين گونه رفتار را مخل امنيت بين‌المللي مي‌دانست و بعد از اشغال هم تنها كشور منطقه بود كه از دمكراسي در عراق و ايجاد دولت ملي و مجلس ملي و قانون اساسي حمايت نمود تا هر چه سريعتر امنيت در عراق ايجاد گردد".

د لاریحانی په اند، د ایران د اسلامی جمهوریت د امنیت د ستراتیژۍ موخه دفاعی بڼه لري. نوموړی په دې اړه وویل: "دكترين امنيت ملي جمهوري اسلامي دفاعي است؛ چون ايران راه حل مشكلات را در روش نظامي نمي‌داند و با

همه كشورهاي منطقه دوست است، به خاك آنها و نه به ثروت آنها چشم طمع ندارد، ديگران در منطقه به ما حمله كردند و ما از خود دفاع كرديم. دبير شوراي عالي امنيت ملي كشورمان اظهار داشت: آينده هم نشان خواهد داد كه از طرف ايران هيچ بدي به آنها نخواهد رسيد. وقتي خاك ايران توسط صدام اشغال شد، ما را بمباران شيميايي كردند، دوستان منطقه و جهاني يا سكوت كردند و يا از صدام حمايت نمودند. گذشت زمان نشان داد كه اشتباه كردند و صدام براي آنها دردسر شد". د ايران د ملی امنيت د شورا منشی روښانه کړه: " بدتر از اين ماجرا در قضيه افغانستان رخ داد كه آمريكا پس از نقش مثبت جمهوري اسلامي ايران در آن، ايران را محور شرارت ناميد".

لاريجانی د ايران د اتمي کړنلارې په اړه وويل، موږ ځو ځله په روښانه توګه اعلام کړی، چې " در دكترين امنيت ملي ايران سلاح اتمي و شيميايي وجود ندارد و آن را مخالف قوانين اسلامي مي‌دانيم. رهبر معظم انقلاب اسلامي حضرت آيت‌الله خامنه‌اي در اين زمينه فتوي صادر كردند كه سلاح‌هاي كشتار جمعي حرام است. علاوه بر اين ما مي‌دانيم حركت ايران در اين جهت، مسابقه تسليحات اتمي در منطقه را باعث مي‌گردد كه مخل آرامش رواني مردم منطقه و جهان است و به همين دليل از خاورميانه خالي از سلاح كشتار جمعي حمايت مي‌كنيم صورت مسئله واقعاً همين است؛ اما مي‌توان با شگردهاي سياسي آن را پيچيده كرد كه طبعاً مي‌تواند براي منطقه اثرات نامطلوبي داشته باشد".

د پورتنيو ويناوو په شننې سره سرې دا پايله ترلاسه کوي، چې په د نړيوال امنيت په ۴۳ کنفرانس کې تر هر څه دمخه په تولیزه توګه، د شمالی اتلانتيک د پوځي تړون (ناتو) په راتلونکي، د افغانستان او عراق په حالاتو، د ايران د اسلامی جمهوريت پر اتمی لانجې، د فلسطين او اسراييلو تر منځه په کړکيچ او همدارنګه د زمکي پر تودوخي او د اقليم پر بدلون په اړه ويناوې واورول شوې. د کنفرانس وينا کونکو، په تيره بيا نړيوالو او سيمه ييزو څواکونو د پورتنيو موضوعګانو په اړه د خپلو هيوادونو دريځونه روښانه کړل.

که څه هم په دا ډول کنفرانسونو کي نه د کومي موضوع په اړه تصميم نيول کيږي او نه هم په هغه کي د کومي ستونزې له پاره د حل لار لټول کيږي، خو لکه څنګه چې وليدل شو، په هغه کي د امنيتي سياست بنسټيزې موضوعګانې تر څيړنې لاندې ونيول شوې، چې هغه په راتلونکي کې د نړۍ د امنيتي سياست د تصميم په برخه ټاکونکی رول لوبوي. خو د مونشن په سړني کنفرانس کي په ځانګړې توګه د نړيوالو موضوعګانو پر سر د ويناکونکود نظرونو تر منځه په ښکاره توګه توپيرونه وليدل شول. د بيلګې په توګه د المان لومړي وزيرې، انګيلا ميرکل په خپلې وينا کي په ډيره نرمه ژبه يادونه وکړه: چې" په نړۍ کې هيڅ يو هيواد دومره ځواک، پيسي او اغيز نه لري، چې په يوازې توګه له نړيوالو ستونزو سره مبارزه وکړي". دا په خپله د متحدو ايالتونو پر بهرنی سياست غير مستقيمه نيوکه وه.

خو تر ټولو دمخه د متحدو ايالتونو او د روسيي د فدراسيون تر منځه د نړۍ پر مهمو مسألو لکه:

- د روسيي د پولو په لور د ناتو پراختيا او په ختيځې اروپا کې د دفاعي توغنديو د سيستم ځای په ځای کول؛
- د اتمي وسلو د وسله تونونو له منځه وړل؛
- په فضأ کې د وسلو نه پراختيا؛
- يو وزری نړيوال نظام او د متحدو ايالتونو له خوا له زورزياتی څخه کار اخيستل؛
- د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې پر سره ستونزه؛
- پر نورو هيوادونو د متحدو ايالتونو د کورنيو قوانينو، په تيره د اقتصادي بنديزونو له لارې منل او
- د ايران اتمي پروګرام او د توغنديو د تکنالوژۍ مسله، د نظر توپيرونه په ډاګه شول.

د مونشن په کنفرانس کي د روسيي د ولسمشر، پوتين له وينا وروسته او په نړيوال ډګر کې د پورتنيو ستونزمنو مسألو په شتوالي سره، ځيني سياسي کتونکي د روسيي او متحدو ايالتونو تر منځه د يوې نوې سړې جګړې له پيل او ځيني نور ځانګيز پوهان بيا د نړيوال نظام له څو قطبي کيدو څخه خبرې کوي. ايا په ريښتيا هم د نړيوال نظام  د څو قطبي کيدو نبښي نښاني تر سترګو کيږي؟ او که داسي وي، نو کوم هيواد يا د کومو هيوادونو ټلواله او يا کومي سيمي به له اقتصادي، سياسي او پوځي پلوه دا شونتيا ولري، چې د امريکا د متحدو ايالتونو په وړاندې د يوه الترناتيف ځواک يا په بله وينا د يوه سيال په توګه رامنځته شي. ايا دا به د اورپاــ اسيا په سيمه کي د روسيي، چين، هند، ايران او پاکستان هيوادونه او يا په بله وينا د شانګهای سازمان وي او که د روسيي او اروپايي ټولنې تر منځه ټلواله وي، چې په دې اړه به يوه څيړنيزه ليکنه"چند قطبی شدن نظم جهانی" تر سرليک لاندې په دوو برخو کې ګرانو لوستونکو ته په درې ژبه وړاندې شي. که په نړيوال نظام کي په ريښتيا هم دغه او يا هم بل قطب رامنځته شي، د هغه اغيز به پر افغانستان، چې اوسمهال د شمالی اتلانتيک د پوځي تړون (ناتو) پروتکتورات Protectorat دئ، څه ډول وي؟

خو دومره روښانه ده، چې په نړيواله کچه د متحدو ايالتونو، اغيز او واکمنې، د مجهز او مدرن پوځ له درلودو سره سره، د کمزورتيا په حال کي ده. فرانسوی تاريخ پوه، امانويل تود Emmanuel Todd وايي: "د متحدو ايالتونو پوځي ماشين د امريکا د هيواد له پاره ډير ستر او د يوې نړيوالي امپراتورۍ د کنترول او تر ټولو دمخه د اروپاــ اسيا په سيمه کې، چې د متحدو ايالتونو له هيواد څخه لرې پرته سيمه ده، د دغه هيواد د هژموني د ساتنې له پاره، وړوکی

دئ. " ( Todd, Emmauel, 2004, S.107 ). د متحدو ایالتونو د پوځي او سیاسي کمزورتیا تر څنگ اوسمهال د دغه هیواد ملی اقتصاد هم د نورو صنعتي هیوادونو په پرتله کمزوری برېښي، چې ښه بیلگه یې د نورو سکتورونو تر څنگ د سوداگری د بیلانس کسر دئ. گابور شتاینگارت په دي اړه لیکی: " په ۲۰۰۵ کال کې له چین سره د متحدو ایالتونو د سوداگرۍ د بیلانس کسر ۲۰۰ میلیاردو ډالرو ته رسیده، دغه ونده له جاپان سره څه نا څه ۸۰ میلیاردو ډالره وه. له اروپا سره دغه کسر څه د پاسه ۱۲۰ میلیاردو ډالرو ته رسیده" ( Steingart, Gabor, 2006, S.56). خو روسیې په دې وروستیو څو کلونو کې د خپلو طبیعي زیرمو د توکو، په تیره بیا د نفتو او گازو د صادراتو د عایداتو له لارې خپل ملی اقتصاد بیرته ورغاوه او خپل بهرني پورونه یې ورکړل. سربیره پر دې روسیه له پوځي پلوه په تیره بیا د خپلو اتمي وسلو په لرلو سره، یوازینی هیواد دئ، چې کولی شي، پر نړۍ د متحدو ایالتونو له انحصاري واکمني څخه مخنیوي وکړي. د روسیې دغه پوځي او اقتصادي ځواک په دې مانا نه دئ، چې سړی په نړیوال نظم کې روسیه ته د متحدو ایالتونو د سیال په سترگه وگوري. که روسیه غواړي د نړیوال نظم د یو قطب په توگه رامنځته شي، اړینه ده، چې ترټولو دمخه له ستراتیژیک (په تیره د انرژۍ په برخه کې) اقتصادي او سیاسي پلوه له هم گټو هیوادونو سره یوه ټلواله رامنځته کړي.

***************

اخځای:

۱- .http://www.securityconference.de/konferenz

۲- /09-11.02.07 http://www.Spiegel.de

۳- http://www.baztab.com/print.php?id=60311

یادونه:

د ایران د اسلامی جمهوریت د استازی، علی لاریجانی د وینا د څو ځلیزي ژباړي د مخنیوي په خاطر د نوموړي وینا د بازتاب له خبری سایت څخه اخیستل شوې او لندیز یې په فارسی ژبه وړاندې شوی دئ.

۴- Gabor Steingart: Welt krieg um Wohlstand, in: Der Spiegel, Nr.: 37/11. 9. 2006, S. 44-75

پورتنی عنوان د شریف بهاند له خوا په پښتو ژباړل شوی دئ وگوري په :

http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF_ bahand_sharif_zokalai_02

http://www.benawa.com/kandahar.php?id=11401

۵- Emmanuel Todd: Weltmacht USA Ein Nachruf, 2004, München